هفته واره رساله

د امیرِ اهلِسُنَّت تقریباً 36 کاله مخکښینے بیان

# عقلمند پلار



د یوې بوډۍ خراب حالت

د کامیابۍ راز

د خلمي ډاکټر مرګ

اهمه مسئله


شیخ طریقت، امیرِ اهلِ سنت، بانیِ دعوتِ اسلامي، حضرت علامه مولانا ابو بلال

محمد الیاس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# عقلمند پلار [1]

دُعائے عطّار: يا رَبَّ الْمُصطفٰے! څوک چې دا رساله "عقلمند پلار" ولولي يا واوري هغهٔ ته د دُنيا د غمونو نه نجات ورعطا کړې او د دواړو جهانو خوشحالۍ يې نصيب کړې او هغه سره د مور او پلاره بے حسابه اوبخښې.
اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ

## د دُرُود شريف فضيلت

د الله پاک د اخري نبي، مکي مَدَني صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چا چې د شوق او محبت په وجه په ورځ او شپه کښې په ما باندې درې درې کرته دُرُودِ پاک ولوستو په الله پاک باندې حق دے چې د هغهٔ د هغې ورځې او د هغې شپې ګناهونه اوبخښي- (معجم کبير، 362/18، حديث: 928)

---

[1] ••• دا بيان امير اهل سُنت، باني دعوتِ اِسلامي حضرت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي ضيائي دامت بَرَكَاتُهمُ العاليه په 10 صفر المُظفر کال 1410ھ بمطابق 12 ستمبر کال 1989ء خانيوال ( پنجاب پاکستان) کښې په هفته واره د سُنَّتونه په ډکه اجتماع کښې کړے وو- کوم له چې د المدينة العلميه شعبې "بياناتِ امير اهل سُنَّت" ترتيب ورکړے دے-

# عقلمند پلار

منقول دي: چې د يو ګس وړوکے ځوي به د هغۀ سره پۀ کټ کښې سملاستو، يوه شپه ماشوم ډېر نا قلاره شو او اودۀ نشو- پلار د بچي نه پوښتنه اوکړه: آيا پۀ څۀ ځائے دې درد دے؟ بچي يې جواب ورکړو: بابا جانه! درد نشته، خو پۀ اصل کښې خبره دا ده چې سبا د زيارت ورځ ده او د هر زيارت پۀ ورځ زمونږه استاذ صاحب پۀ ټوله هفته کښې پۀ ښودلے شوو سبقونو کښې اِمتحان اخلي، ما ته د دې هفتې سبق صحيح ياد نۀ دے او زما سره ويره ده چې که چرې ما سبق صحيح وه نۀ وئيلو نو استاذ صاحب به زما نه خفه شي او سزا به هم راکړي- د ماشوم خبرې چې يې واوريدلې نو د پلار پۀ سترګو کښې يې اوښکې راغلې او هغه پۀ خپله محاسبه کولو سره پۀ زړۀ زړۀ کښې خپل ځان ته ووئيل: دې ماشوم ته صرف د يوې هفتې د سبقونو امتحان ورکول دي او دے دومره ويرېږي چې اودۀ کيدے نشي او ما ته خو د قيامت پۀ ورځ د الله پاک پۀ دربار کښې د ټول عمر د کړو ګناهونو حساب ورکول دي لهذا د دۀ پۀ نسبت ما ته ډېر ويريدل پکار دي- (درة الناصحين، ص 255 ملخصاً)

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** پۀ دې دُنيا کښې داسې نيکان خلق هم موجود دي چې د دُنيا خيزونه ويني نو اخرت ورياد شي، پۀ دې باره

کښې يوه بله واقعه واورئ،

## د دوزخ د وور ويره

خليفهٔ اعلیٰ حضرت ، فقيهِ اعظم مولانا ابو يُوسُف محمد شريف کوټلوي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه پهٔ خپل کتاب " اَخلاق الصالحين " کښې ليکلي دي:چي پهٔ يو بزرګ رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه باندې به د الله پاک ويره دومره غالبه وه چي کله به يې ډيوه بلوله نو د دوزخ وور به يې يادولو او پهٔ ژړا به شو- (اخلاق الصالحين، ص67 ماخوذاً)

بهر حال د دُنيا پهٔ اِمتحان کښې د ناکامۍ د ويرې نه د ماشوم د ناقلارۍ پهٔ ليدو د هغهٔ د پلار د خپل اخرت د اِمتحان پهٔ يادولو د الله پاک د ويرې نه لړزيدل ډيره د عبرت خبره ده- د دې واقعې يو يو لفظ بلکې يو يو حرف پهٔ ځان کښې دننه د عبرت بے بها ملغلرې لري او دا واقعه مونږ ته د عبرت دعوت راکوي- که وکتلے شي نو عام طور مونږ د دُنيا د حساب او کتاب نه ويريږو خو افسوس چې د اخرت د حساب او کتاب نه نهٔ ويريږو حالانکې د دُنيا حساب کتاب ډير اسان دے خو د اخرت حساب کتاب ډير ګران دے- ياد ساتئ چې حساب کتاب اخستل د الله پاک پهٔ خوښه باندې موقوف دې هغه چې د چا نه وغواړي حساب به اخلي او چې وغواړي نو

څوک به بے حسابه او بے کتابه جَنَّت ته داخِل کړي خو حساب کتاب اخستل هم ډیره سخته معامله ده-

## د حشر د میدان 5 سوالونه

د سرورِ ذِیشان، رحمتِ عالمیان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: د قیامت پهٔ ورځ به اِنسان د هغه وخته پورې قدم نشي پورته کولے د څو پورې چې د دې 5 سوالونو جوابونه ورنکړي: ﴿1﴾ عمر دې پهٔ کوم کار کښې تیر کړو؟ ﴿2﴾ ځواني دې څنګه تیره کړه؟ ﴿3,4﴾ مال دې څنګه وګټو او څنګه دې ولګولو؟ ﴿5﴾ پهٔ خپل عِلم دې د کوم حده پورې عمل اوکړو؟

(ترمذی، 188/4، حدیث:2424)

پهٔ مونږ کښې چې څوک ځوانان دي هغوئي له غور کول پکار دي چې هغوئي ځواني څنګه تیروي؟ که د قیامت پهٔ ورځ د هغوئي نه دا پوښتنه اوکړے شوه چې ځواني دې څنګه تیره کړه؟ نو هغوئي به د دې څهٔ جواب ورکوي؟ د کومو خلقو ځواني چې تیره شوې ده هغوئي له ډیر غور کول پکار دي چې هغوئي ځواني څنګه تیره کړه! که ځواني یــې د الله پاک د رضا او د هغهٔ د خوږ حبیب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سُنَّتو مطابق تیره کړې نهٔ وي نو هغوئي له پهٔ دې باندې د الله پاک پهٔ دربار کښې ژړا زاري او توبه کول پکار دي

ولې چې اوس لا د توبې دروازه برسيره ده- که سحر بے لارې شوے ماښام کور ته واپس راشي نو هغهٔ ته بے لارې نشي وئيلے-

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** اوس لا هم زمونږ په ژبه کښې طاقت شته، عقل سلامت دے او د مرګ نه مخکښې د توبې موقع راسره شته لهذا مونږ له فوراً توبه کول پکار دي- کومو خلقو چې دا وخت د ځوانۍ په دُرشل قدم ايښودے دے او د ځوانۍ د سيالو سره سيال ژوند تيروي هغوئي له پکار دي چې په خپله ځوانۍ زړهٔ وسوزوي، نيک اعمال اوکړي او ياد ساتئ چې ډيره زر ځواني تيريدونکې ده- چا شاعر ډير ښه وئيلي دي:

ڈھل جائے گی یہ جوانی جس پہ تجھ کو ناز ہے
تو بجالے چاہے جتنا چار دن کا ساز ہے

د څو پورې چې د ځوانۍ د تيريدو خبره ده نو دا د ډيرو کمو خلقو تيريږي ځکه چې ډير خلق د ځوانۍ تيريدو نه مخکښې مړهٔ کيږي او د تيارې ژورې کندې ته رسيږي- تاسو د خپلې محلې جائزه واخلئ چې ستاسو په محله کښې څومره بوډاګان نارينه او بوډۍ ګانې زنانه موجودې دي؟ کيدے شي چې تاسو په دې نتيجه ورسيږئ چې که ستاسو په محله

کښې مثلاً د زرو [1000] خلقو ابادي ده نو پۀ دې کښې به تاسو ته ماشومان پۀ کثرت سره میلاؤیږي، د ماشومانو نه لږ د ډیر عمر والا به هم ډیر پۀ نظر راځي، ځوانان به هم ډیر وینۍ خو کومو نارینۀ ته چې " بوډاګان " یا کومو زنانۀ ته چې " بوډۍ ګانې " وئیلے کیږي د هغوئې شمیره به 15 یا 20 وي، د دې نه معلومیږي چې صرف دوه فیصده خلق بوډا والي ته رسیږي، باقي پاتې نور 98 فیصده د ځوانۍ ختمیدو نه مخکښې مخکښې خپلو قبرونو ته رسیږي- یاد ساتئ چې بوډا والي ته رسیدل اسان نۀ دي ځکه چې د ځوانۍ نه بوډا والي ته د رسیدو د پاره اِنسان ته د بیمارو، د لوئې لوئې پیښو، مصیبتونو وغیره سختو مرحلو نه ځان بچ کول وي-

## بوډا والے اسان نۀ دے

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د بوډا والي ژوند د پریشانو ښکار وي- هم دا وجه ده چې کوم کَس د بوډا والي منزل ته ورسیږي نو د هغۀ پۀ مخ باندې مُسکا ډیره کمه لیدلے کیږي او کله چې هغه خاندي نو د هغۀ خندا پیکه پیکه معلومیږي د کومې شا ته چې مایوسي پټه وي- کله چې د عمر زیاتیدو سره سره بوډا والے نور زیاتیږي نو بیا د بوډا اِنسان د پاره کومه خوشحالي،

خوشحالي او کوم غم، غم نۀ پاتې کيږي د دې پورې چې هغه د مرګ ارمان کوي- پۀ دې باره کښې يوه عبرتناکه واقعه ولولئ،

## د يوې بوډۍ خراب حالت

يو ځل زۀ (يعني امير اهلِ سُنَّت) د کراچۍ يوې علاقې ته د بيان کولو د پاره لاړم نو يو اِسلامي ورور زما او زما سره يو څو نور اِسلامي وروڼه د ميلمستيا د پاره خپل کور ته بوتللو- هلته پۀ کټ کښې يوه ډيره زياته ضعيفه کمزورې "بوډۍ" ناسته وه هغه بوډاتوب دومره کمزورې کړې وه چې بالکل سمه راټوله شوې وه، پۀ خوا تيريدونکي يو کَس به هم هغې ته د همدردۍ پۀ نظر نۀ کتل، زما د هغې پۀ دې حالت ډير زړۀ خوږ شو او زۀ لږ ودريدم او د هغې د زړۀ خوشحالو د پاره مې پوښتنه اوکړه: مشرې بي بي! تاسو څنګه يئ! هغې جواب راکړو کوم چې د ډيرو کلونو تيريدو باوجود نن هم ما ته ياد دے او کيدے شي دا د مرګه پورې زۀ هير نۀ کړم ځکه چې پۀ دې کښې زما د پاره عبرت دے، زما پۀ پوښتنه هغې بوډۍ پۀ ارماني اواز کښې ووئيل: زۀ ډيره بيماره يم، تۀ دُعا اوکړه چې الله پاک ما ته د مُحَمَّد صَلَّى الله عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ وسيله مرګ راکړي- د هغې بوډۍ تقريباً چې هم دغه الفاظ وو

کوم چې د اوسه پورې زما پۀ غوږونو کښې دي- (ياد ساتئ چې د غم او مصيبت د ويرې نه د مرګ دُعا کول منع دې. (فضائل دعاء، ص182))

آه! هُغه بوډۍ به کله پۀ خپل ماشومتوب يادولو باندې ژړلې وي چې هغې به پۀ ماشومتوب کښې څنګه لوبې کولې، منډې به يې وهلې، خندل به يې خبرې به يې کولې، کله به يې خپله ځواني ياده کړې وي او ژړلي به يې وي چې څومره پۀ ښه انداز د هغې وادۀ اوشو، څنګه به خلقو هغې ته د خير دعاګانې کولې، څنګه به هغې ته خوشحالۍ ميلاوېدلې، څنګه به ماشومانو د هغې خدمت کولو او څومره پۀ شان او شوکت سره به هغه ودونو له تله راتلله، آه! د داسې قِسمه خبرو پۀ سوچ کولو به د هُغې بوډۍ زړۀ خفه شوے وي: هئ افسوس چې اوس زۀ هيڅ نشم کولے، نۀ د چا کره د وادۀ د پاره د تللو جوګه يم او نۀ مړي له تللے شم- بهر حال د هُغې بوډۍ د پاره نۀ څۀ غم وو او نۀ خوشحالي، غم وو بس هغې ارمان کولو-

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** ژوند يو خوب يا د لوبو تږقو نوم دے د کوم وخت چې ډېر مختصر دے- غور اوکړئ چې مشکله ده که څوک داسې کَس وي د چا د کور نه چې جنازه نۀ وي وتلې يا هغه يو مړي له غسل نۀ وي ورکړے يا پۀ غسل ورکولو کښې يې د چا مدد نۀ وي کړے يا يې چا ته

کفن نهٔ وي اچولے یا یې پهٔ کفن اچولو کښې د چا ملګرتیا نهٔ وي کړې، که چا دا ټول کارونه نهٔ وي کړي نو کم از کم هغهٔ به د چا مسلمان جنازې له ضرور اوګه ورکړې وي یا به هغهٔ د چا مسلمان پهٔ جنازه کښې ضرور شرکت کړے وي یا به د جنازې سره هدیرې ته تلے وي یا به یې د یو مړي قبر ته د کوزولو پهٔ وخت د خلقو مرسته کړې وي، داسې پهٔ زرګونو بلکې پهٔ لکونو خلقو خپل مختصر شان ژوند تیر کړے دے او د اخرت د لارې مسافر جوړ شوي دي۔

## دُنیا سراسر عبرت دے

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا دُنیا ده د ورانیدو د پاره، څوک چې پیدا شو، هغه دے د مرګ د پاره، هم داسې پهٔ دُنیا کښې هر طرفته عبرت دے۔ که غور اوکړے شي نو د اِنسان د پیدائش نه مخکښې هم عبرت شروع شي هغه داسې چې کله نُطفه د مور رَحم کښې ټیکاؤ شي نو پهٔ رَحم باندې مُؤَکَّل (یعنې مقرره) فرښته د هغه ځائے خاوره راواخلي د کوم ځائے نه چې د هغې نطفې نه د پیدا کیدونکي ماشوم د مړ کیدو نه پس دفن کیدل وي او بیا د هغې خاورې نه د مور پهٔ خېټه کښې وجود جوړوي۔ (نوادر الاصول، 115114/2، حدیث:304 ملتقطاً)

معلومه شوه چې د پيدا کيدو نه مخکښې مرګ تاکلے شوے دے او مونږ ته چې د مرګ نه پس کومې خاورې ته تلل دي هغه هم د مخکښې نه زمونږ وجود ته رارسيدلې ده او د هغې نه زمونږ وجود جوړ شوے دے- په قبر باندې د خاورې اچولو په وخت د لوستلے کيدونکې دُعا په ترجمه باندې غور اوکړئ نو معلومه به شي چې مونږ د خاورو نه جوړ کړے شوي يو- افسوس چې ډيرو خلقو ته په قبر باندې د خاورو د اچولو دُعا هم ياده نۀ وي او نۀ ورله د خاورو اچولو طريقه ورځي- د الله پاک د رضا موندلو، د اخرت د ثواب ګټلو په نيت سره په قبر باندې د خاورو د اچولو مُستحب طريقه وړاندې کولے شي،

## په قبر باندې د خاورو اچولو مُستَحَب طريقه

په قبر باندې د خاورې اچولو مُستَحَب طريقه دا ده چې د سر د طرف نه په دواړو لاسونو باندې درې کرته خاوره واچوئ- په وړومبي ځل ووايئ: ﴿ مِنۡهَا خَلَقۡنَاكُمۡ﴾ (مونږه تاسو هم د زمکې نه جوړ کړي)، په دويم ځل ووايئ: ﴿وَفِيهَا نُعِيدُكُمۡ﴾ (او هُم دې ته به مو بيا ورګرځوو)، په دريم ځل ووايئ: ﴿ وَمِنۡهَا نُخۡرِجُكُمۡ تَارَةً أُخۡرَىٰ﴾ (پ16، سورۀ طه: 55) (او د هُم دې نه به تاسو واپس را اوباسو)- بيا باقي پاتې خاوره په بيلچه وغيره باندې واچوئ- (الجوہرۃالنیرۃ، ص141)

## د دُنیا د ژوند حقیقت

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! د دُنیا ژوند د لوبو ټوقو نه علاوه هيڅ نۀ دې، اللّٰه پاک د دُنیا د ژوند حقیقت بیانوي او اِرشاد فرمائي:

وَ مَا هٰذِهِ الْحَیٰوةُ الدُّنْیَاۤ اِلَّا لَهْوٌ وَّ لَعِبٌؕ وَ اِنَّ الدَّارَ الْاٰخِرَةَ لَهِیَ الْحَیَوَانُۘ لَوْ كَانُوْا یَعْلَمُوْنَ(۶۴)

(پ 21، سورۂ العنکبوت: 64)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او دا د دُنیا ژوند خو صرف لوبې ټوقې دي او بے شکه د اخرت کور هُم هغه رښتینے ژوند دے- څومره ښه به وه که هغوئي (پۀ دې) پوهیدے-

د دې آیت مبارک لاندې حضرت علامه مولانا نعیمُ الدین مُراد آبادي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ اِرشاد فرمائیلے دے: لکه څنګه چې ماشومان د لږ ساعت د پاره لوبې کوي، پۀ لوبو کښې زړۀ لګوي بیا هُغه هر څۀ پریږدي او لاړ شي هم دغه حال د دُنیا دے چې دا ډیره زر ختمیدونکې ده او مرګ د دې ځائے نه هم داسې جُدا کول کوي لکه څنګه چې د لوبو والا ماشومان خوریږي-

(تفسیر خزائن العرفان، پ 21، العنکبوت، تحت الآیة: 64، ص 747)

کله چې ماشوم پۀ لوبو ټوقو کښې مشغول وي نو د هغۀ وخت دومره زر تیریږي چې هغه ته هډو پته نۀ لګي، دغه شان د دُنیا د ژوند مثال دے چې

هغه هم ډېر زر تيرېږي او ختمېږي او اِنسان ته هډو پته نۀ لګي- ډېر خلق د خپل مستقبل پۀ روښانه کولو کښې مشغول وي چې پۀ دې کښې د مرګ ښکار شي او تياره قبر ته ورسيږي- ياد ساتئ چې زمونږه حقيقي مستقبل د قبر سره تړلے دے پۀ کوم کښې چې مونږ ته پۀ زرګونو کلونه اوسيدل دي ځکه د هغې تياري کول پکار دي- نن چې مونږ پۀ دُنيا کښې کوم خپل مستقبل ګڼلے دے هغه زمونږ حقيقي مستقبل نۀ دے او ضروري نۀ دي چې هغه مونږ ته حاصل هم شي- پۀ دې باره کښې يوه عبرتناکه واقعه وړاندې کوو،

## د ځوان ډاکټر مرګ

د پاکستان د مشهور ښار کراچۍ سره تعلق لرونکي يو ګَس به د پرچون دُکان کولو او خپله ګزاره به يې پرې کوله- د هغۀ خواهش وو چې زما ځوي پۀ څۀ طريقه امريکې ته لاړ شي، هلته سبق ووائي او د ډاکټرۍ ډګري حاصله کړي، بيا واپس خپل ملک ته راشي او پۀ کراچۍ کښې يو پرائيويټ کلينک اوباسي، خپل مستقبل ښه روښانه کړي او زما د بوډا توب ملاتړ جوړ شي- د خپل دې خواهش پوره کولو د پاره اخر هغه دکاندار پۀ ځان سخته تيره کړه يا يې د خلقو نه قرضه راواخسته او دومره پيسې يې

جمع کړي چې هغه پرې خپل ځوي امريکې ته وليږلے شي، نو هغه د خپل ګل په شان د ځوي د مستقبل روښانه کولو د پاره هغه امريکې ته وليږو- ځوي يې په امريکه کښې د ډاکټرئ تعليم مکمل کړو او بيا واپس کراچئ ته راغلو او د پلار د خواهش مطابق يې د خپل کور په خوا کښې يو پرائيويټ کلينک پرانستو- پلار يې ډير خوشحاله وو چې اوس زما د ځوي مستقبل روښانه شو او ما ته د بوډا والي ملاتړ ميلاؤ شو-

لا د هٰغه وخته پورې د هٰغه ډاکټر وادۀ نۀ وو شوے لهٰذا پلار يې سوچ اوکړو چې وړومبے څۀ پيسې جمع شي چې زما د ځوي مستقبل ښه روښانه شي بيا به ورله وادۀ کووم، اخر دومره تادي د څۀ ده؟ د خپلې منصوبې پوره کول چې يې وليدل نو پلار يې ډير په خوشحالئ ژوند تيرولو خو قدرت ته بل څۀ منظور وو، داسې وشول چې د کلينک د پرانستو نه دوه يا درې مياشتې پس د هٰغه ځلمي ډاکټر زيړے مرض شو، هغه ځچپله دوايانې اِستعمال کړې خو ښۀ نۀ شو، بيا چې کله لوئي ډاکټرانو له لاړو نو هغوئي په اسپتال کښې داخِل کړو- آه! د يو څو ورځو بيمارئ نه پس چې کوم ځلمے دوه يا درې مياشتې مخکښې ډاکټر جوړ شوے وو په کچه ځوانئ کښې وفات شو- وروستو يې بيا د پلار نه دا واوريدے شو چې هئ افسوس! ما

چې د خپل ځوي پۀ تعليم باندې کومې پيسې لګولې وې لا د اوسه پورې هغه پوره شوې هم نۀ وې چې ځوي مې وفات شو-

ہوئے نامُور بے نشاں کیسے کیسے
زمیں کھا گئی نوجواں کیسے کیسے
جگہ جی لگانے کی دنیا نہیں ہے
یہ عبرت کی جا ہے تماشا نہیں ہے

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** تاسو وکتل چې څلمے ډاکټر د بوډا والي پۀ دُرشل د قدم ايښودو نه مخکښې پۀ کچه ځوانۍ کښې د مرګ ښکار شو- لږ سوچ اوکړئ چې د ډاکټرۍ ډګري به د هغۀ پۀ قبر کښې څۀ پکار راشي؟ اے کاش! که د هغۀ پلار هغه حافظِ قرآن جوړ کړے وے نو يواځې د هغۀ نۀ بلکې د هغۀ د کور والؤ به هم اخرت ښه شوے وو، دومره رقم به پرې هم نۀ لګيدو او نۀ به خپل بوډا پلار خپل د ګل پۀ شان ځوي د تعليم د پاره غيرو ته سپارلو خو افسوس چې داسې اونشول-

دا واقعه مونږ له د عبرت دعوت راکوي خو ډير خلق د عبرت حاصلولو پۀ ځائے داسې واقعې پۀ يو غوږ اوري او پۀ بل يې اوباسي- نن سبا حالات د

ځۀ داسې دي چې ګويا بے نـمانځو قسم کړے دے چې که هر ځۀ وشي خو مونږ به نـمونځ نۀ کوو، ډيرو خريونڪو کيدے شي چې قَسم خوړلے وي چې که موليان هر څومره زور ولګوي مونږ به چرې هم د شيطان سره بے وفائي نۀ کوو او ږيره به نۀ پريږدو، فلمونو او ډرامو کتونڪو پۀ خپل ځان باندې لازمي کړي دي چې که هر څۀ کيږي مونږ به د فلمونو او ډرامو د کتو نه نۀ منع کيږو- بهر حال پۀ خپله خُله باندې خو څوک هم نۀ وائي البته د خپل عمل پۀ ذريعه خلق هم پۀ دې وئيلو پۀ نظر راځي چې مونږ نۀ ټيک شوي يو او نۀ به ټيک شو، قسم مو خوړلے دے-

ږيره پريښودل نن سبا مَعَاذَالله! پۀ معاشره کښې يو عيب ګڼلے کيږي حالانڪې د کوم شين ګنبد د يو نظر کتو د پاره چې مونږ لړزيږو د هُغه شين ګنبد د اوسيدونڪي، جنابِ رَحْمَةُ لِّلعالمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ مخ مبارک باندې ښکلې ږيره وه، پۀ سر مبارک باندې به يـې نُوراني عمامه شريف وه او ښکلو ښکلو زلفانو مبارکو به يـې مبارک غوږونه ښکلول- کوم خلق چې دې د پاره ږيرې خريوي چې چرته ” مُلا “ رانه جوړ نشي نو داسې خلقو له غور کول پڪار دي چې د کومې هستۍ دوئي کلمه لوستلې ده د هغوئي پۀ مخ مبارک باندې ږيره مبارکه وه-

**اے بے نـمانځو واورئ!** اے د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د میاشتې د روژو بغیر د شرعي عُذر نه قضا کوونکو تاسو هم واورئ! اے جوارۍ کوونکو تاسو هم واورئ! اے شراب څښونکو تاسو هم واورئ! اے پوډر او چرس څښونکو تاسو هم واورئ! اے ویډیو ګیمز ښځپله کوونکو او پۀ نورو باندې کوونکو تاسو هم واورئ! اے ویډیو سینټر چلوونکو تاسو هم واورئ! اے د مور او پلار تنګوونکو تاسو هم واورئ! اے د ږیرې خریونکو او د یو موټې نه کموونکو تاسو هم واورئ! اے مسلمانانو ته بر ناحقه ضرر رسوونکو تاسو هم واورئ! د خپل اولاد د سُنَّت مطابق تربیت نۀ کوونکو تاسو هم واورئ! ضد پریږدئ، نیغې لارې ته راشئ او یاد ساتئ چې که چرې داسې د ګناهونو لړۍ جاري وه او تاسو هم پۀ خپل دې ضد باندې کلک ولاړ وۍ چې نـمونځونه به نۀ کوۍ، د رَمَضَانُ الْمُبَارَک روژې به نۀ نیسۍ، د فلمونو ډرامو کتو نه به نۀ منع کیږۍ نو الله پاک او د هغۀ خوږ حبیب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ناراضه کیدے شي او مَعَاذَالله! ایمان هم برباد کیدے شي، که چرې داسې وشول نو د دوزخ پۀ عذاب کښې به راګیریدل وي- د عبرت د پاره پۀ دوزخ کښې کافرانو له د ورکړے کیدونکي عذاب یو منظر ولولئ، الله پاک پۀ قرآنِ مجید کښې اِرشاد فرمائي:

يَوْمَ تُقَلَّبُ وُجُوْهُهُمْ فِي النَّارِ يَقُوْلُوْنَ يٰلَيْتَنَاۤ اَطَعْنَا اللّٰهَ وَ اَطَعْنَا الرَّسُوْلَا ﴿۶۶﴾ وَ قَالُوْا رَبَّنَاۤ اِنَّاۤ اَطَعْنَا سَادَتَنَا وَ كُبَرَآءَنَا فَاَضَلُّوْنَا السَّبِيْلَا ﴿۶۷﴾ رَبَّنَاۤ اٰتِهِمْ ضِعْفَيْنِ مِنَ الْعَذَابِ وَ الْعَنْهُمْ لَعْنًا كَبِيْرًا ﴿۶۸﴾

(پ22، سورۂ الاحزاب:6866)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: په کومه ورځ به چې د هغوئي مخونه په وور کښې بیا بیا اړولے راوړلے کیږي نو وائي به: هئ! اے کاش چې مونږ د الله حُکم منلے وے او د رسول حُکم مو منلے وے- او وائي به: اے زمونږه ربه! مونږه د خپلو سردارانو او مشرانو د وینا تابعداري اوکړه نو هغوئي مونږ د لارې نه بے لارې کړلو- اے زمونږه ربه! هغوئي ته دوه چنده عذاب ورکړې او په هغوئي لوئي لعنت اوکړې-

معلومه شوه چې څوک د خپلو لیډرانو یا د خپلو مشرانو په وجه نیغه لاره پریږدي هغه به ګنهګار او د وور د عذاب حقدار کیږي- په دې باندې هٔغه خلقو له هم غور کول پکار دي کوم چې ږیرې پریښودو ته تیاریږي خو وائي چې مونږ به اول د خپل والد صاحب نه د ږیرې پریښودو اجازت اخلو، که هغوئي اجازت راکړو نو ږیره به پریږدو ګني نهٔ یې پریږدو- یاد

ساتئ چي د اللّٰه پاک او د هغهٔ د رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حُکم د مخلوق پهٔ حُکم باندې مُقدم دے- مونږ له د شريعت حُکمونه منل پکار دي ګنې د پښيمانتيا نه علاوه به هيڅ لاس ته رانهٔ شي-

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! تاسو د بيان پهٔ شروع کښې ولوستل چې يو ماشوم د اللّٰه پاک د ويرې نه ژړل چې هغه ته استاذ ته سبق اورول وو او بيا د هغهٔ پلار هم پهٔ دې سوچ کولو وژړل چې زما د ځوي سره د خپل سبق دومره احساس دے خو زما سره د دې خبرې هيڅ احساس نشته چې ما ته پهٔ اخرت کښې دومره لوئي حساب او کتاب ورکول پراتهٔ دي- ياد ساتئ چې دُنيا د اِمتحان کور دے، پهٔ اخرت کښې د کاميابيدو يا ناکامه کيدو د پاره چې پهٔ دُنيا کښې څنګه تياري کوئ نو پهٔ اخرت کښې به هم هُغه شان نتيجې راوځي-

## د کاميابئ راز

اللّٰه پاک مونږ ته د اخرت د کاميابئ راز رانبائي او اِرشاد فرمائي:

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَ قُوۡلُوۡا قَوۡلًا سَدِيۡدًا ۙ﴿۷۰﴾ يُّصۡلِحۡ لَكُمۡ اَعۡمَالَكُمۡ وَ يَغۡفِرۡ لَكُمۡ

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: اے ايمان والؤ! د اللّٰه نه ويريږئ او سمه خبره کوئ- اللّٰه به ستاسو اعمال ستاسو د پاره ښائسته کړي او ستاسو ګناهونه

ذُنُوْبَكُمْ ؕ وَ مَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهٗ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيْمًا ﴿۷۱﴾

(پ22، سورۂالاحزاب:7170)

به اوبخښي، او څوک چې د الله او د هغه د رسول فرمانبرداري اوکړي هغهٔ لويه کاميابي وموندله-

د دې آيتونو مبارکو نه معلومه شوه چې د اخرت پهٔ اِمتحان کښې د کاميابۍ هم دا لار ده چې د الله پاک او د هغهٔ د خوږ رسول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تابعداري او فرمانبرداري پهٔ خپل ځان باندې لازمه کړے شي ځکه چې د الله پاک پهٔ حُکمونو باندې عمل او د سُنَّتو د تابعدارۍ کولو نه بغير نجات حاصلول ډير مشکل دے-

اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! د عاشقانِ رسول د دِينې تنظيم دعوتِ اِسلامي پهٔ دِينې ماحول کښې مونږ ته هم دا درس راکولے کيږي چې مونږ د خپل اخرت تياري اوکړو، پهٔ دې مختصر شان ژوند کښې الله پاک هير نکړو او د هغهٔ د خوږ حبيب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ سُنَّتو باندې عمل کول پرې نږدو-

الله پاک بے نيازه او بے پروا دے، که ټوله دُنيا نـمونځ اونکړي نو يقيناً چې هغهٔ ته هيڅ نقصان نهٔ رسيږي او که ټول مخلوق هغهٔ ته پهٔ سجده شي نو د هغهٔ عظمت نشي زياتولے- آؤ! پهٔ نـمونځ کولو کښې هم زمونږه فائده

ده، که چرې مونږ نـمونځ کوو نو خپل ځان به د اخرت د نقصان نه بچ کوو او که نۀ يـې کوو نو زمونږ د پاره د دردناک عذاب وعيدونه موجود دي او مونږ به د دوزخ حقدار جوړيږو لکه څنګه چې پۀ قرآنِ پاک کښې دي:

فِيْ جَنّٰتٍ ۛ يَتَسَآءَلُوْنَ ﴿۴۰﴾ عَنِ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿۴۱﴾ مَا سَلَكَكُمْ فِيْ سَقَرَ ﴿۴۲﴾ قَالُوْا لَمْ نَكُ مِنَ الْمُصَلِّيْنَ ﴿۴۳﴾ وَ لَمْ نَكُ نُطْعِمُ الْمِسْكِيْنَ ﴿۴۴﴾ وَ كُنَّا نَخُوْضُ مَعَ الْخَآىِٕضِيْنَ ﴿۴۵﴾ وَ كُنَّا نُكَذِّبُ بِيَوْمِ الدِّيْنِ ﴿۴۶﴾ حَتّٰۤى اَتٰىنَا الْيَقِيْنُ ﴿۴۷﴾

(پ29، سورۀ المدّثّر: 40تا47)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: [پۀ] باغونو کښې به وي- هغوئي به تپوس کوي- د مجرمانو نه- کوم څيز تاسو دوزخ ته بوتلئ؟- هغوئي به وائي: مونږه د نـمونځ ګزارو نه نۀ وو- او مسکينانو ته به مو خوراک نۀ ورکولو- او بيهوده فکر والؤ سره به مو د بيهوده خبرو سوچونه کول- او مونږ به د اِنصاف ورځ دروغ ګڼله- د دې پورې چې مونږ لره مرګ راغلے-

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** تاسو د نـمونځ نۀ کوونـکو پۀ باره کښې د قرآنِ پاک آيتونه مبارک وکتل نو اِنسان کوم چې ډير کمزورے او بے وسه دے، معمولي ګرمي او يخني برداشت کولے نشي، د تيزې سيلۍ پۀ

چيو لړزيږي، د طوفان د کړسا نه ويريږي، کوم چې د معمولي شان نزلې او زُکام د زغملو طاقت نۀ لري، تبه چې څوک پۀ کټ پرې باسي، چې اِنسان دومره کمزورے دے نو هغۀ له پکار دي چې د اخرت د عذابونو نه ويريږي او فوراً توبه وکړي، د نيکو نه ډک ژوند تيرول شروع کړي، د الله پاک پۀ دربار کښې عرض ګزاريم: اے الله پاکه! زۀ ستا ناراضګي نۀ بلکې رضا او خوشحالي غواړم، ستا د عذاب د زغملو طاقت نۀ لرم، ستا پۀ دې حُکم ﴿ وَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ ﴾ (پ 1، سورۀ البقرة:43) [مفهوم] ترجمۀ كنزُ العِرفان: " نـمونځ قائم کړئ-" هُم د نن نه د عمل کولو وعده کووم او نيت کووم چې د نن نه پس به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! زما نه يو نـمونځ هم نۀ قضا کيږي-

## اهمه مسئله

د دې مسئلې خيال ساتئ چې بيا د پاره د نـمونځ نۀ قضا کولو پۀ نيت سره مخکښيني قضا نـمونځونه نۀ معاف کيږي بلکې هغه به ادا کول وي د دې سره سره به توبه هم کول وي چې اے الله! زما نه چې د نـمونځونو د قضا کيدو کومه ګناه شوې ده تۀ هغه معاف کړې! د الله پاک د رحمت نه طمع ده چې هغه به هُغه ګناهونه معاف کړي-

یاد ساتئ چې د نـمونځ ډېر تاکید شوے دے د دې پورې فرمائیلے شوي دي چې " که یو ګس په اوبو کښې ډوبیږي او که هغه هُغه وخت هم بغیر د عملِ کثیر نه په اِشارې سره نـمونځ کولے شي مثلاً لامبو زن دے یا د لرګي وغیره ملاتړ ه ومومي نو په هغۀ باندې نـمونځ کول فرض دي، ګني معذوره دے که بچ شي نو قضا به راوړي-" (بهارِ شریعت، 725/1، حصه:4)

## د غیر مسلمو په شان شکل مۀ جوړوئ

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د نـمونځونو د قضا کولو سره سره د ږیرې د خریلو ګناه هم زمونږ په معاشره کښې عامه شوې ده حالانکې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مخ مبارک باندې ږیره مبارکه وه او نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مسلمانانو ته د ږیرې مبارکې د پریښودو حُکم هم کړے دے لکه څنګه چې په حدیثِ پاک کښې دي چې د الله پاک اخري نبي، مکي مَدَني صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائیلے دے: ږیرې اوږدې کړئ او د یهودیانو په شان شکل مۀ جوړوئ- (مسلم، ص125، حدیث: 603)

ږیره خریل او د یو موټې نه کمول دواړه حرام او دوزخ ته بوتلونکې کارونه دي- (فتاویٰ رضویه، 505/6) لهذا د ږیرې د خریلو او د یو موټې نه د کمولو نه توبه کړئ او خُدائے دې نکړي که چرې چا د ږیرې د خریلو یا د یو

موتې نه د کمولو ضد رانيولے وي نو هغه دې خپل دا " ضد " شيطاني کار وګڼي او پرې دې يـې ږدي ولې چې پۀ ګناه باندې کلک ودريدل د شيطان صفت دے،

## د شيطان ضد

حضرت موسیٰ کليمُ الله عَلَيْهِ السَّلَام يو ځل د کوهِ طُور طرف ته تشريف وړلو چې پۀ لاره کښې ورسره شيطان مردود ميلاؤ شو او پۀ ژړا ژړا يـې ووئيل: زۀ توبه کول غواړم، تاسو د الله پاک نه پوښتنه اوکړئ چې زما د توبې طريقه څۀ ده؟ حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام د الله پاک پۀ دربار کښې پيش شو او د شيطان د توبې د طريقې پوښتنه يـې اوکړه نو الله پاک اِرشاد وفرمائيلو: دۀ ته ووايئ چې که دے د آدم عَلَيْهِ السَّلَام قبر ته سجده اوکړي نو زۀ به د دۀ توبه قبوله کړم- حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام شيطان ته وفرمائيل: ما ستا د توبې د طريقې پوښتنه اوکړه ، بس تۀ د آدم عَلَيْهِ السَّلَام قبر ته سجده اوکړه نو ستا توبه به قبوله کړے شي- دا يـې چې واوريدل نو شيطان پۀ کړس کړس وخاندل او وه يـې وئيل: اے موسیٰ! زۀ هغه وخت د آدم عَلَيْهِ السَّلَام پۀ وړاندې ټيټ نۀ شوم چې کله هغه پخپله زما مخې ته موجود وو نو اوس زۀ د هغۀ قبر ته څنګه سر ټيټولے شم؟ (تنبيه الغافلين، ص110 ماخوذاً)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! معلومه شوه چې پۀ بدۍ باندې کلک ودريدل شيطاني کار دے او د شيطان انجام هم ستاسو مخې ته دے د هغۀ پۀ غاړه کښې د لعنت طوق واچولے شو- مونږه مسلمانان يو او د مسلمان کار پۀ بدۍ باندې کلک ودريدل نۀ بلکې د دې نه لرې اوسيدل دي- اَلْحَمْدُلِلّٰه! د ټولو مسلمانانو د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښکلے ښائسته شکل خوښ دے-


ان کے جلووں میں ہیں وہ دِلچسپیاں

جو یہاں پہنچا یہیں کا ہو گیا

ټول اِسلامي ورونړه دې نيت اوکړي چې د نن نه پس به د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره د محبت نخښه (يعنې ږيره مبارکه) به زمونږ د مخ نه چرې هم نۀ کټ کيږي او هم د نن نه به زمونږ مخ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ سُنَّت باندې ښائسته کيدل شروع شي- اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ايندڙ هفتي جو رسالو





فيضانِ مدينه محله سوداگران، پراڻي سبزي منڊي ڪراچي

UAN +92 21 111 25 26 92   0313-1139278

www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net

feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net